9. هم دغه صفحه نۀ لري
10.هم دغه صفحه ۱۲۰ ، ۱۲۱
11.اعظم ، محمد اعظم ، پښتو افسانه تحقیق او تنقید ، عظیم پبلېشنګ هاوس پېښور ،جولائي ۱۹۷۶ء ص ۷۰
12.هم دغه ص ۸۲
13.هېوادمل ، زلمی، دپښتونخوا اوسني داستاني ادبیات مشموله،دپښتونخوا داستاني ادبیات، مرتبه محمد نعیم ازاد پښتو ادبي غورځنګ کوټه ۲۰۱۲ء، ص ۹۹
14.آریانا دائرة المعارف لومړی ټوک ، دافغانستان اسلامي جمهوریت دعلومو اکېډمی ، ۱۳۸۸ش، ص ۷۳۶
15.هم دغه ، ص ۷۳۵، ۷۳۶
16.عطائي ، ابراهیم ، دکوټي د اووم اکتوبر رزم مشموله کابل مجله ، شپږمه ګڼه دعلومو اکېډمي، ۱۳۶۵ی هـ ش ص ۶۰
17.هم دغه ، ص ۶۱
18.اعظم ، محمد اعظم ، پښتو افسانه تحقیق او تنقید ، ص ۲۱، ۲۲

# د میاں الله داد چشتي بابا د ژوند تنقیدي جائزه

## A CRITICAL STUDY OF THE LIFE OF MIAN ALLADAD CHISTI BABA

Darman Ali Khail*
Dr. Altaf Yousaf Zai†

* PhD. Scholar, Dept. of Pashto, University of Peshawar, Khyber PashtoonKhwa
† Assist. Prof. Hazarah University Mansehra, Khyber PashtoonKhwa

**ABSTRACT:**

*Allah Dad Chishti Baba was a well known soofi and historical personality. His shrine is situated in historical town of Aladand Dehri, swat Ranezai.The famous pushto, khushal khan khattak has mentioned him in "swat Nama" His personality has also been discussed in Pashto folk poetry. Various famous singers also used to visit his shrine under the influence of a traditional myth that the singer is voice becomes so melodious after the visit of his shrine. And this article, the authors has discussed all such aspects, of chishti Baba,s personality in the light of historical truths.*

د چشتيه سلسلې د دی لوی صوفي او بزرګ تعلق د یوسفزو د تاریخي کلي اله ډنډ ډېرۍ سرهپ وو. دا بزرګ ددې تاریخي کلي په لویه مقبره کښې په ابدي خوب اوده دی. او هم دغه مقبره د دۀ په نومصوب ده چې په چشتي بابا مقبره یادولې شي.

د دې لوی بزرګ د مریدانو سلسله تر ډیره لرې لرې رسیدلې ده او عقیدتمند یې اوس هم د مزار چې میاں الله داد چشتي بابا مزار ته لاړ شي او د شاعرۍ د فن غوښتنه او کړي نو هغه ته خدای دغه ملکه ور عطاء کړي.

د ملاکنډ نو موړي شاعر ښاغلی زرنوش شهاب وایي.

" چې موږ واړۀ د میاں الله داد چشتی بابا مزار ته به په دې غرض تلو چې د شاعرۍ فن راته زده شي"(۱)

دغه شان د دې لوی صوفي او بزرګ بې شمېره کرامات مشهور دي چې په کښې ځینې افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې ذکر کړۍ دی.

" نقل دی چې میاں الله داد په چکدره کښې د مجلس سره ناست وه په هغه مجلس کښې بعضو و وې چې میاں دریغه توري پیښي شوي چې موږ د تا د وړا نوي جنګ وکړی. د ورته و فرمائیل چې تورې ګراني دي لاڅې مه کاښي.

لافې د ځوانانو تر غاړې زې. دوې نیا مبالغه او کړه ده ورته و وې چې ښه خدای توفیق درکړه. په هغه زمان د سوات له سیند عظیم اژدها راوت برابر هغه مجلس راغی هغه تمام مجلس بې تکلیف تار په تار د ؤکړ. هغه اژدها راغی د میاں الله داد تر څنګ تېر شهٔ چې هغه حلمي را غلل دهٔ ورته و وې چې ما تا څو ته وې چې لافې مه ګاڼې تا سو نه پوهیدی. واړو توبې وکښې تر پښوې پریوتل.

؛نقل دی میاں الله داد په سروراور دیدهٔ عالمانوپه تعصب د دین وبله ووی چې راشې چې اظهار د امر معروف وکړو اخرالامر عالمانو ورروان شول. چې په حجره ورغلل نظر ي وکړ میا الله داد سرور خود په خود غړ یده عالمانو تعجب وکړو خاموش پستنه را جادوتل"(۲)

دا بزرګ چې چشتي بابا شهرت لري په قام رانی زی او د علی خېلو د تپې اله ډنو ډېرې د ملی خېلو سد آدم خان افغان زوی وه. د ده مور د حضرت اخون درویزه بابا لور وه.دغه رنګ دی د میاں کریمداد شهید خوریی او د میانور د ماما زوی ؤ .

"حضرت میاں الله داد چې په چشتی بابا مشهوره دی د چشتیه سلسلې مشهوره صوفی وؤ په اله ډنه کښې یې مزار دی د پلار نوم یې پیر آدم خان افغان وو. الله داد د شهید بابا کریمداد خوریی یعنی د خور زوی وو"(۳)

د دې لوی صوفي او بزرګ د مازون کیدو په هکله اروابناد رحیم شاه رحیم په " سات نامه جواب نامه" کښې په یو شعر کښې وایي.

" الله داد چشتی مازون ؤ د ماما نه
خلقې ورته راماتي د هر خوانه"(۴)

د میا الله داد چشتي بابا د ماذون کیدو په هکله د رحیم شاه رحیم صیب د دې خبرې سره اختلاف کیدای شي ولی چې افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې لیکي.

" میاں اللہ داد چشتي په اصل رانیزی دی په تجارت د غلې پیښاور ته راغلی ؤ. سريې خوړیده په یو مسجد کښې پروت وؤ یو شخص له هندوستان وه چې طريقه چشتيه يې درله مرید ورسره وؤ. هغه مرید عرض ورته وکړ چې ما ډیر خدمت دې تا وکړ امېدوار یم چې مستفید شم. هغه بزرګ ورته ووې چې زۀ تهجد ګزاریم. هغه وخت ته حاضر شه هر چې دې نصیب دي بیا به يې مومې. نقل کا چې په هغه وخت بزرګ تهجد وګزارل مرید غافل شه توجه يې په میاں الله داد وکړه سعادت د ده روزي شۀ"(۵)

دا یوه خبره ضرور وه چې د میاں الله داد چشتي بابا د خپلې ماما خېلې سره زیاته مینه محبت ؤ او لکه چې د هغوې په صحبت کښې به يې ناسته کوله. کله چې ستر خوشحال بابا سوات ته راغلئ ؤ او د میاں نور بابا سره يې مناظره کوله نو داسي ښکاري چې دا بزرګ هم په دغه موقع موجود ؤ. ځکه خوخوشحال په "سوات نامه" کښې د دی بزرګ په حواله داسې ذکر کوي.

" د میاں نور مفتیان د سوات په ملک کښې دوه دي الله داد او دوست محمد دواړه یاوه دی"(۶)

دغه شان دا صوفي او بزرګ د تیرا په جنګ کښې هم د خپل ماما میاں کریمداد شهید بابا سره د ګیري کافرو خلاف جنګېدلی ؤ. په دغه جنګ کښې میاں کریمداد بابا شهید شوې وؤ او میاں الله داد چشتی بابا زخمي شوې ؤ.

"۱۰۵۹ میں تیرات کی مقام دریا کی کناری ادھی رات کی وقت اور شوال عید الفطر کی مہینہ کی نو تاریخ کا فرو کی ہاتھوں حضرت میاں کریمداد اور پیر عبدالحکیم شاعر دونوں اس غزا میں شہید ہوئی اور حضرت میاں الله داد چشتی بابا الله ڈنڈ سوات جو پیر ادم خان افغان کا بیٹا تھا اور کریمداد کا خواہس زادہ تھا اسی لڑای میں سخت زخمي ہوا مگر مرنی سی بچ گیا. حضرت چشتی بابا کی شادي کا ایک ہفتہ گزر گیا تھا کہ اپ زخمي ہوئی"(۷)

دلته که یو خوا موږ ته د میاں الله داد چشتی بابا د خپلي نانا خېلې سره د زیاتي وابستګۍ ثبوت میلاویږي نو بل خوا دا خبره هم تر څه حد ډاګې ته کیږی چې په دغه

وخت یعني کال ۱۰۵۹ ھ کښې دی ځلمی ؤ ځکه چې یوه هفته یې د وادۀ شوې وه. په دغه وخت کښې که د دوی عمر ۲۸ کاله او ګڼلی شي نو د پیدائش کال یې ۱۰۳۱ ھ اټکل کیدای شي.

"کله چې خوشحال په ۱۰۸۶ ھ کښې سوات ته د مغلو خلاف د لښکر د راټولولو په غرض پېقه کړې وه نو میاں الله داد چشتي د خپل ماما د زوی میاں نور ترڅنګ د ستر خان خټک مخالفت کړۍ وؤ.

په دغه وختو کښې د اخون درویزه د نمسي او خلیفه شیخ میاں نور روحاني زور ؤ چې لا تر ننني ورځې په ټول سوات کښې میاں نور بابا مشهور دی او په تاڼه کلي کښې هم یوه سېرۍ د هغه په نوم موجود ده. کوم عقیدت چې د یوسفزؤ د اخون دروېزه سره ؤ هغه عقیدت یې د هغه د زوي میاں کریمداد او د هغه د نمسي میاں نور محمد (شېخ میاں نور) سره هم ؤ او دوې ته به یې ډیر د عزت او احترام نسبت کوؤ"(۸)

د تاریخ په پاڼو کښې د میاں الله داد سره سم په دغه وختونو کښې د ملک الله داد په نوم یو بل کردار زموږ مخې ته راځي چې د تاریخ مرصع او د خوشحال د کلام په رڼا کښې دغۀ دواړه شخصیاتو جدا جدا کېږی.

هغه وخت چې خوشحال د مغل د قید د تورو تمبو شاته پروت ؤ نو د اکوزو یو سفزو دوه مېږني مشران حمزه خان بائیزی او ملک الله داد رانېزی وو چې د خان کورنۍ یې د مغل د ظلم نه بچ کړه او خپلې علاقې ته یې بوتله.

" د ملک حمزا خان بائیزی او ملک الله داد رای زی په رنګ داسې څوک لا وو چې په دوی یې ننګ کړو او دوی ټوله خېل خانه کاټلنګ او سیکري ته راوسته او هلته یې د مغلو د عتاب او زور زیاتي نه په امان کړه"(۱۰)

بايد چې دلته د ملک الله داد د کردار لړه څېړنه او شي چې دا خبره را مخې ته شي چې میاں الله داد چشتي او ملک الله داد دوه جدا کردارونه وایي.

"یو ؤ بائیزی، رانېزی ورسره مل
لوی ملک مې واړه په دریاب پورې وتل"(۱۱)

"لکه د تاریخ مرصع د بیان . د رانړې او بائي زي په هکله کامل صیب وایي.

"خوشحال خان کا سالہ حمزہ خان اور ملک اللہ داد خان بہت سی رانی زیوں اور بابی زیوں کی ہمراہ آئی اور خوشحال خان کی ا ہل وعیال کو یوسفزوں کی علاقہ میں بمقام سیکی پہنچادیا"(۱۳)

دا هغه ملک الله داد رانړې زی دی چا چې خوشحال سوات ته د راتګ په دوران په تهوتي کښې د قیام نه منع کړئ ؤ. په دې چې په لنګر کوټ کښې د مغلو فوځونه پراته وؤ. خوشحال خان د ملک الله داد خان رانړې زي مشوره منلې وه او روستم ته یې کوچ کړئ ؤ. خوشحال په رستم کښې څو میاشتې تېرې کړې وې. په دې دوران کښې حمزه خان با ئیزی او نور ملکان یې خوا له ورغلي وو خو ملک الله داد د سیاسي وجوهاتو او مصلحتونو په وجه د خوشحال خان خوا له نه ؤ ورغلی.

"د الله داد خان جواب راغی چې ته دور ته مه اوسه . دغه ځای مېدان دی د لنګر کوټ مغل جوړ فوځونه ناست دي. یو ځای دره د غره ونیسه . رستم لره لاړشوم...څو میاشتې دې ما په رستم تېرې شوې.... پس د څو میاشتو همزه ورسره ملکانې راغلل. په دا مدت کښې الله داد خان هم را نه غلی. باوجود دی چې بیا ما په وؤ هسې مهرباني وکړه لکه په خپل فرزنو. غایبانه څو وعایته مې ورسره کړئ ؤ. د مغل د زړه د پاره مالره را نغلی پس د هغه چې نور ملکان راغلل دی هسي تور خجل راغی عذر نا مشروع به یې وایهٔ "(۱۴)

هر څو که ورستهٔ ملک الله داد د خوشحال خوا له ورغلی ؤ خو لکه چې د خوشحال ترې زړه پاسیدلې وؤ. ځکه خو وایي:

"الهداد لکه لمڅی په جېفه ګرزی

د مر داري بوې ی ځی له دواړه چنګه"(۱۵)

د ملک الله داد (الهداد ) په هکله رحیم شاه رحیم په "سوات نامه جواب نامه" کښې وایي.

" د کاچو ملک نمسی ؤ که ذوزاد ؤ

نوم یې ناخلي خوشحال خان خوالهدادؤ"(۱۶)

دا شعر رحیم شاه رحیم د خو شحال د هغې شعر په ترخ کښې لیکلی کوم چې خوشحال په "سوات نامه کښې څه په دې ډول رقم کړی دی:

" د کاچو نمسی نه خان دی، نه ملک دی

کالوچو، دروغجن غشی د هلک دی"(۱۷)

دلته دا خبره ثابتېږی چې میاں الله داد او ملک الله داد د یو وخت او یو قام دوه جدا کردارونه دي.

د زمیني حقائقو او تاریخي شواهدو نه دا خبره ثبته ده چې میاں الله داد چشتي بابا لکه د اخون درویزه او میاں کریمداد په رنګه په یوسفزو کښې د شهرت ځلنده مقام لرؤ. او هاغه عزت او احترام ورته حاصل ؤ کوم چې د دۀ نیکه اخوندرویزه او ماما میاں کریمداد شهید بابا موندلی ؤ. خو کله د دی فاني دنیا نه کوچېدلی دی نو لکه چې د اخونددرویزه او میاں کریمداد نه زیات محترم شوی دی.

"دراصل اللہ داد وہ شخصیت ہیں جن کا روضہ الہ ڈھنڈ ڈھیری میں واقع ہی اور یہاں کی لوگوں میں اللہ داد چشتی سردار کہلایا جاتاہی. مزار بڑادلکش اور پر رونق ہی اور لنگر بھی ہی"(۱۸)

نړی چي د جدید علم او ادب په کالو سنګو شوی نو دا وخت او حالاتو په مناسبت په پښتو کښې د خپلو بزرګانو په مزارونو حاضري او هاغه عقیدت تر ډېره حده متاثره شوی ښکاري. نه خو اس د میاں الله داد چشتي بابا په مزار لنګر شته، نه عرس او نه د چشتیه سلسلې هاغه ټنګ ټکور چې د دې سیمي د هر لوی وړکي په زړه کښې به یې د

خپل پیر د عظمت او عقیدت نه ختمیدونکی جربې دا لړزوالی خو نیا هم کله کله یې د عقیدتمندو په خله دا ټپه راځي چې

"که سوات ته ځې په ملاکنډ ځه
دا له ډنډ په چشتی وایه سلامونه"(۱۹)

دغه رنګ یوه بله ټپه چې د حضرت سید علي ترمیزي المعروف به پیر بابا سره هم منصوب ده خو دلته په دې سیمه هم په خپل رنګ کښې د پښتنو په خُله د خپل پیر سره د عقیدت غمازي کوي.

"چتشي بابا په ډاګ یې وله
په تا تېرېږی منزري بابا له ځینه "(۲۰)

یا لکه دا چار بیته:

"چتشي بابا ته اولیاء یې
زه دې مرید ته پیر زما یې
چشتي بابا نظر په ما که
ما د جانان سره پخُلا که
د شهنشاؤ شهنشا یې
زما اشنا راځي
زه دي مرید ته پیر زما یې"(۲۱)

دغه شان د چار بیتی په حواله یو لوی نوم نوره دین هم په خپلو بې شمېره چار بیتو کښې میاں اللہ داد چشتی ته د عقیدت پېرزوني وړاندی کړي دي.

"نامه مې نوره دین ده کمالوه را کښې ډیر
نیان مې زرزری دی
وطن مې دی بربر ذبه خنجر غوڅی نمیر
مجلس مې اثری دی

چشتي میاں اللہ داد مې په سر ډال ایخی دی
مجلس به د کړم بند"(۲۲)
"نوره دین په خطر غل یمه هم ساد یم
د دشمن په مری توره د فولاد یم
مرید کښې د چشتی میاں اللہ داد یم
په وطن کښې راته غلي شاعران دي"(۲۳)

د میاں اللہ داد چشتی بابا په حقله دا هم وئیل کیږي چې شاعر ؤ.خو په دې هکله ښکاره بېلګي نسته ډاکټر علی خېل دریاب د ستر پوهان صدیق اللہ رشتین حواله په خپله تحقیقي مقاله کښې ذکر کړئ دی.نو کېدای شي چې د اخون درویزه له کهوله وي. څه رنګه چې د شاعرانو په ډله کښې راوړی دی نو معلومیږي چې شاعر هم ؤ. د الپوری حافظ د کریمداد او درویزه د ذکرڅخه وروسته د دهٔ نوم داسي اخلي:

اې چشتي میاں اللہ داد
ما نیولې لمن ستا ده"(۲۴)

په دې حواله ډاکټر شېر زمان سیماب د خپل ایم فل په تحقیقي مقاله کښې لیکي:
" موږ چې په مالاکنډ کښې د شاعرۍ کحفې ځېلې لټوؤ نو د اللہ ډهنډ ډهېرۍ چشتی اللہ داد المعروف چشتي بابا را مخې ته کېږی چې شعرونه ې سینه په سینه راروان دي. لکه

تا لاشه په تا هره بلا راشه
چې میاں اللہ داد راشي
تا هیڅ کله ؤ نه وې
چې هر کله تهٔ راشه

هم پسې ورسته لېکي:

"د چشتي الله داد که موږ سره د کلام څۀ ډیره زخیره نسته خو بیا هم د دغه سینه په سینه راروانو شعرونو په بنیاد د ملاکنډ د ادبي زنجیر دغه سرکړۍ د څېړنې پامته داره ده"(۲۵)

## حوالې

(۱):-د ښاغلي زرنوش شهاب سره په دې حواله زما خبری اتری ۱۴ اکتوبر کال ۲۰۱۶ مازیګر ۵ بجې، تهانه اولسی کتابون ملاکنډ

(۲):-خټک افضل خان ، تاریخ مرصع، یونیورسټي بک اېجنسي، جدون پریس پېښور، مئ ۲۰۰۶ء مخ۱۵۷

(۳):-دریاب علي خېل ، د خوشحال په کلام کښې مذکور شخصیات، د پي.ایچ. ډی تحقیقي مقاله، پښتو ډیپارټمنټ، پېښور یونیورسټي، مخ ۱۵۷ (ناچاپ)

(۴):-رحیم، رحیم شاه ، سوات نامه جواب نامه، شعېب سنز پبلشرز، مېنګوره، جون ۲۰۰۶ء،مخ۱۰۵

(۵):- ،خټک افضل خان ،تاریخ مرصع، مخ۶۲۴

(۶ ):- خټک خوشحال خان ، سوات نامه، مرتب همېش خلیل، مورزی خوشحال ادبي و ثقافتي جرګه اکوړه خټک، شرکت پرنټینګ پریس لاهور، وړمبی چاپ ۱۹۸۶ء، مخ ۷۱

(۷):-قادري ظاهر شاه میاں ، اخون دروېزه بابا ، مکتبه غوثیه مدین سوات ۲۹۹۹ء مخ ۲۱۰

(۸):-خټک افضل خان ، تاریخ مرصع، مخ۳۷۵

(۹):-طاهر محمد نواز پروفېسر ، ادب تراش، پښتو اکیډمۍ پېښور، جدون پرنټینګ پریس، نومبر ۲۰۰۶ء،مخ۵۰

(۱۰):- هم د غه اثر مخ ۵۳

(۱۱):-خټک خوشحال خان ، کلیات، مرتب دوست محمد خان کامل، اداره اشاعت پېښرو ۱۹۵۲، مخ۹۴۲

(۱۲):- خټک افضل خان، تاریخ مرصع، مخ۳۲۷
(۱۳):-کامل دوست محمد ، خوشحال خان خټک، شاهین بکس پشاور، دوسرا ایډیشن، ۲۰۰۶ء مخ ۱۳۵
(۱۴):- خټک افضل خان ، تاریخ مرصع، مخ۳۷۴
(۱۵):-خټک خوشحال خان ، دیوان، محکمه ثقافت صوبه سرحد، تریب او تدوین، حاجي پردل خان،جدون پریس، چاپ کال نه لري، مخ۳۴۱
(۱۶):-رحیم، رحیم شاه ، سوات نامه جواب نامه،مخ۱۰۶
(۱۷):-خټک خوشحال خان ، کلیات، اوډنه، سمون او ویبپانګه د عبدالقیوم زاهد مشوانې، دانش خپرندویه ټولنه، دریم چاپ ۱۳۹۱ل/۲۰۱۳ز، مخ۹۲۴
(۱۸):-برېکوټی شیر افضل خان ، مولانا اخون درویزه ، شعېب سنز پبلشرز مېنګوره سوات، حاجی حنیف اینډ سنز پرنټرز لاهور، نومبر ۲۰۱۰ مخ۱۸۰
(۱۹):- دا ټپه په پختونخوا کښې د چشتیه مکتب فکر هر اړیکوال ته یاده ده او دغه شان د راڼې زی قام سره اړیکه لرونکی هر چاته دا ټپه ورغي خوله بده مرغه د پښتو اکیډمۍ د سېوري لاندې چې په ټپه خومره هم کار شوې دا ټپه نه لري،
(۲۰):- دا ټپه ماته خپل والد بزرګوار ملک محمد رسول خان په ۲۰ اکتوبر کال ۲۰۱۶ وئیلې ده.
(۲۱):- د چار بیتی دا څه حصه ماته د ملاکنډ د سیمی تکړه مشر شاعر ښاغلی فضل علیم علیم په ۲۴ اکتوبر کال ۲۰۱۶ء ماسخوتن ۹ بجې د هغه سره د ملاقات په وخت وئیلې وه. د دوی د وینا تر مخه د شاعر په هکله یې څۀ ښکاره شو اید نشته البته وئیل کیږي چې د اله ډنډ ډیرۍ د ملي خېلو د محلې جهانزیب به دا چار بیته ډیره وئیله
(۲۲):- د نوره دین چار بیتي، مرتبه، نصر الله نصر، شاهین برقي پرېس پېښور، وړمبی چاپ ۱۹۵۸ء، مخ۵۱
(۲۳):-نصر، نصر الله خان ، مقدمه مشموله د نوره دین چار بیتي، مخ۶،۷